مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۶/۰۴

# اختـر مبارکي؟

ډېر کلونه وشول چې زموږ پر هېواد او خلکو باندې د وینو او اورونو توفان راغلی دی. د دې توفان ځپې نه یوازې نه کراریږي، بلکې ورځ تر بلې نورې هم مرګونې کېږي. زه چې د خلکو خوار زار حالت ته ګورم، زړه مې ورته تنګ شي غواړم چغې کړم او خپل غږ پاس تر عرشه پورې ورسوم، ګوندې واورېدل شي.
په اخترونو کې چې ډېری خلک د تل غوړېدلي ویر پر تغر ناست وي؛ نو په داسې حالت کې به څنګه ځوک چا تهووایي چې اختر دې مبارک شه.
ډیر کلونه پخوا مې د همدې زړه تنګۍ حالت د یو ازاد شعر په قالب کې انځور کړی او خپور کړی و، یو ځل بیا یې د خپل تنګ زړه د خبرې او غږ په دول خپروم:

## اختر مبارکي؟

چې ته نه یې

خوښي نه شته

خلک وږي رنځوران دي

او د جنګ لمبو کې سوځي

زه به څنګه

او په کوم مخ

څه له پاره

په کوم ویاړ به

چا ته ورشم

ور ته وایم چې:

اختر دې مبارک شه!؟

د ۱۳۶۳ کال د سنبلې پنځه لسمه

کابـــل، افغانستان

(مروره مځکه،۵۵ مخ )



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ